ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
(یو سلاو دویمه برخه)

## محبوب الله سراج

د حیات الله زوی او د امیر حبیب الله خان لمسی په ۱۹۲۷ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ سوی او بیا ئې په فرانسې کې زده کړې وکړې. په ۱۹۶۵ز کال کې ئې د امریکا په متحده ایالاتو کې په „فدرال اوي ایشن اتاریوټي» [1] کې „هوایي ملکي» [2] ولوستله. د افغان هوایي چلند د هوایي ملکي عمومي رئیس. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د توریزم د ریاست رئیس. له یوې جرمنۍ مېرمنې سره ئې واده کړی دئ او له ۱۹۸۳ز کال راپه دېخوا په جرمني کې ژوند کوي.

## ډاکټر محمد عزیز سراج

د امیر حبیب الله خان زوی، په ۱۹۱۶ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. د امانیه په ښوونځي او د دوک د پوهنتون د طب په پوهنځي او د امریکا د متحده ایالاتو د جانز هاپکینز په تدریسي هسپتال» [3] کې ئې تحصیلات کړي دي. د کابل ښاروالي د محیطي روغتیا/ صحت محیطي [4] د ریاست رئیس. د طبي خپرونو مؤلف. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## ډاکټر محمد ابراهیم مجید سراج

د امیر حبیب الله خان لمسی او د عبدالمجید (چې د حبیب الله کلکاني له پلوه ووژل سو) زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ سوی دئ؛ او په ۱۹۵۴ز کال کې د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې ئې په پاریس کې تحصیل وکړ. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د امریکا په متحده ایالاتو کې د بوستون د هارورډ د پوهنتون د طب په پوهنځي [5] کې ئې تحصیل وکړ. په ۱۹۶۴ز کال کې د مېرمنو د روغتون د ښځو د ناروغیو [6] د دیپارټمنټ غړی او مشر ډاکټر. په ۱۹۶۷ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته د لا نورو روزنو لپاره لاړ. په ۱۹۶۸ز کال کې د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي رئیس.

---

[1] -Federal Aviation Authority
[2] -Civil Aviation
[3] Duke University and Hohns Hopkins Hospital
[4] -Environmental Health
[5] - Harvard University Medical School, Boston
[6] -Gynecology Department


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۶۹ز کال کې د پلان د وزارت سلاکار. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د روغتیا وزیر. په ۱۹۷۷ز کال کې د معارف وزیر خو ددې وزارت د کار ژمنه ئـې ونـهٔ کړه. دوه ځله ئـې وادهٔ کړی دئ او څلور بچیان لري. د مېـرمنې نوم ئـې عزیزه ملکیار ده. په انګلیسي او فرانسوي خبرې کوي. د پوهنې مډال ئـې اخیستی دئ. له ۱۹۸۰ز کال راهیسې د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## ډګر جنرال مـحـمـد نذیر کبیر سراج

د امیر حبیب الله خان لمسی او د سردار کبیر سراج زوی په ۱۹۱۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۳ز کال کې د استقلال په لیسې کې شامل سوی او په ۱۹۳۴ز کال کې د کابل حربي ښوونځي ته تللی دئ؛ په ۱۹۳۷ز کال کې د دوهم بریدمن په رتبې فارغ سوی دئ. په ۱۹۳۹ز کال کې ئـې لومړي بریدمن ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۴۲ز کال کې د تورن رتبې ته لوړ سو. په ۱۹۴۲ز کال کې د مدیریت کورس کې شامل او په ۱۹۴۳ز کال کې فارغ سو. په ۱۹۴۵ز کال کې د جګړن رتبې ته ئـې ارتقا وکړه. په ۱۹۵۰ز کال کې ډګروال سو. په ۱۹۵۱ز کال کې په هندوستان کې د پېـرودنګ/خریداري لپاره د افغان پوځي مأموریت مشر. په ۱۹۵۵ز کال کې ئـې د «بریګیډییر»[7] رتبې ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۶۰ز کال کې برید جنرال سو. د ملي دفاع د وزارت د لوژستیک د ریاست مرستیال رئـیس. په ۱۹۶۴ز کال کې تورن جنرال سو. په ۱۹۶۵ز کال کې د لوژیستیک په پوهنځي کې شامل سو او په ۱۹۶۷ز کال کې فارغ سو. په ۱۹۶۸ز کال کې د لوژستیک رئـیس. په ۱۹۶۹ز کال کې ډګر جنرال سو. د وسله وال ځواک د لوژستیک د هغې ډلې بولندوی چې له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د وچکالي له کبله د «مرستې او ژغورنې د عملیاتو» یا «د معاونت عملیاتو» په نوم جوړه سوې وه. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د وسله وال ځواک د لوژستیک مشر. په ۱۹۷۷ز کال کې ئـې د دفاع له وزیر سره د اختلاف له کبله استعفی ورکړه. د ۱۹۸۱ز کال د مارچ په میاشت کې جرمني ته کډوال سو. د ګڼ شمېـر آثارو مؤلف. له رابیا/ رابعې سره ئـې وادهٔ کړی دئ او څلور لوڼې لري : بینظیر «چې له سعدالله غوثي سره ئـې وادهٔ کړی دئ»، نسرین «چې له ډاکټر یونس اشرف سره ئـې وادهٔ کړی دئ»، پروین «چې له ضیاء الله سره ئـې وادهٔ کړی دئ» او نجلا «چې له منصور رسول سره ئـې وادهٔ کړی دئ».

## ډاکټر مـحـمـد عمر اسد سراج

د امیر حبیب الله لمسی او د جنرال اسدالله سراج زوی په ۱۹۳۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۴ز کال کې ئـې په ترکیې کې د «استانبول، د سنت جوزف له لیسې»[8] څخه خپل لیسانس تر لاسه کړ. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د انقرې طب پوهنځي ته لاړ. په ۱۹۶۳ز کال کې د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سو. په ۱۹۶۴ز کال کې د مایکروبایولوژي د دیپارتمنت پوهنیار. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د «پاریس د پاستور»[9] په انستیتیوت کې او په تهران کې د پاستور په انستیتیوت کې ئـې تحصیل وکړ. په ۱۹۶۸ز کال کې د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي پوهندوی. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۰ز کال پورې ئـې د پاریس د پاستور په انستیتیوت کې د مایکروبایولوژي په ډګر کې لا

[7] -Brigadier
[8] -St. Joseph Lycee, Istanbul, Turkey
[9] -Institute Pasteur, Paris


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نوري ځېړنې وکړې. په ۱۹۸۰ز کال کې د کابل پوهنتون پوهاند. وادۀ ئې کړی چې څلور زامن او يوه لور لري. مېرمن ئې زهرا محمود غازي نومېږي. له ۱۹۸۰ز کال راهيسې د امريکا په متحده اياﻻتو کې اوسېږي.

## شهزاده عبيدالله سراج

د اعلحيضرت امان الله خان کشر ورور، او له «علياحضرتي» [10] څخه د امير حبيب الله خان زوی په ۱۹۱۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د ‹‹شاه آغا›› په نوم يادېدۀ. په کابل کې د يوۀ/ يوې جرمن خصوصي ښوونکي له پلوه ورته تدريس سوی او هم ئې د کابل په اماني ليسي او هم ئې په جرمني کې زده کړې کړي دي. د ۱۹۲۹ز کال د مي په مياشت کې بمبئې ته له اعليحضرت امان الله سره د لارې مل او ملګری وو او د ۱۹۲۹ز کال د جون په مياشت کې ورسره په کښتۍ کې تر ايټاليا پورې لاړ. تر ۱۹۳۰ز کابل پورې له خپلې مور سره په برلين کې وو. د ۱۹۳۳ز کال د نوامبر په مياشت کې له افغان تابعيت څخه محروم وګرځول سو. ورپسې په استانبول کې مېشت سو او تر اوسه ۱۹۸۵ز کال پورې همدلته ژوند کوي. د محمود طرزي له کشرۍ لور آمنې سره ئې وادۀ کړی دئ او يو زوی لري چې حبيب الله نومېږي؛ حبيب الله په سعودي عربستان کې د انجنير په توګه کار کوي.

## قدرت الله سراج

د امير حبيب الله خان لمسی او د شهزاده حيات الله مشر زوی په ۱۹۱۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د امانيه ‹‹استقلال›› په ښوونځي کې ئې زده کړې کړي دي. خپل کاري ژوند ئې په دولتي انحصاراتو کې پيل کړی دئ او په ۱۹۷۳ز کال کې د عمومي مدير په رتبې متقاعد سو.

## عبدالستار سيرت

په ۱۹۳۷ز کال کې په سمنګانو کې زېږېدلی دئ. تر ۱۹۵۶ز کال پورې ئې د ابو حنيفه په مدرسي کې زده کړې کړي دي. په ۱۹۶۰ز کال کې ئې خپل ليسانس په اسلامياتو کې د کابل پوهنتون د شرعياتو له پوهنځي څخه واخيست. په ۱۹۶۲ز کال کې د کابل پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي مدرس او له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د شرعيانو د پوهنځي رئيس. په ۱۹۶۷ز کال کې ئې د امريکا په متحده اياﻻتو کې زده کړه وکړه، او له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پورې ئې د الازهر په پوهنتون کې تحصيل وکړ. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د عدليې وزير. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د کوم ځانګړي وزارت له لرلو پرته وزير. په مکه ‹‹معظمه – ژ›› کې د ‹‹أُمُ القراء›› د پوهنتون استاد. په مکه کې د مسلمانانو د نړی وال اتحاد د مؤسسي شورئ [11] غړی. د پوهنې مډال ئې تر لاسه کړی دئ. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## حاجي اسماعيل سياه ‹‹ګوزوک››

د ملا عبدالاحد زوی په ۱۸۵۵ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. د غورات حاکم. مشهور شاعر او بې پروا. دی په شلمې پېړۍ کې د پارسي د هجوي يا طنزي شعراوو په منځ کې يو له ښتو ډېرو مشهورو شاعرانو څخه دئ. د دۀ ديوان (چې ددۀ ټول هجوي اشعار په کې نـۀ دي راغلي) په ۱۹۳۰ز کال کې په هرات کې د هرات دوالي جنرال عبدالرحيم له پلوه چاپ سو. نوموړی په ۱۹۴۶ز کال کې وفات سوی دئ.

[10] -Ulya Harzrat
[11] -Constituent Council, Muslim World League, Mecca


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ډاکټر محــمـد آصف سهيل**

د حاجي محمـد يوسف زوی په ۱۹۱۹ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۶ز کال کي د حبـيبيي له ليسي څخه او په ۱۹۴۳ز کال کي د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د فراه د ولايت د روغتيا د رياست رئـيس او له ۱۹۴۳ تر ۱۹۴۴ز کال پورې د پوځ د مشر ډاکټر مرستيال. له ۱۹۴۴ تر ۱۹۴۵ز کال پورې د کابل ښاروالی له روغتونونو سره وو؛ او له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۷ز کال پورې په هرات کې. د اتفاق اسلام همکار. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۴۸ز کال پورې د پکتيا د روغتونونو مشر ډاکټر او د روغتيا رئـيس. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د روغتيا د وزارت د نشريي، د „روغتيا" [12] مجلي مدير. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۱ز کال پورې د هرات د روغتيا د رياست رئـيس او مشر ډاکټر. په ۱۹۵۱ز کال کي د روغتيا د وزارت سلاکار. د „رسالتِ ابنِ سينا" ناشر. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۲ز کال پورې د علي آباد د روغتون مشر ډاکټر/سرطبيب. د طب د پوهنځي مرستيال رئـيس. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د کابل ښاروال. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د مطبوعاتو د رياست رئـيس. د ۱۹۶۶ زکال د فبرورۍ په ۱۵ نـېټه د پيکينګ سفير. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د انيس محرر. شاعر هم دئ. د مينه پال د سرو زرو مډال ئـي تر لاسه کړی دئ. په ۱۹۸۴ز کال کي د امريکا په متحده ايالاتو کي وفات سو.

**نور بيا**

**عبدالله سپـين غر**

„د غوايي له پاځون وروسته د لوړو او مسلکي تحصيلاتو د وزارت مرستيال وزير. د...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک]

[12] -Rughtia Magazine



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولـئ